

دیدار تعارفی سرپرست وزارت معارف با روئسای مرکزی

هفته نامه
معارف
اوونیزه
۱۳۹۷ له معارفه د ملاتړ کال



د پوهنې سرپرست وزیر په افغانستان کې د یونسکو له مشرې سره ولیدل (ص ۴)

د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنیزه خپرونه

سال تاسیس ۱۳۸۱ شماره مسلسل ۲۲۸ ماه حمل سال ۱۳۹۷

سرمقاله:

## پسرلنۍ ورمه دنوي ژوند زیری ورکوي

دالهي تقویم او زماني دساعت څرخ په تاویدودی او د ژمي د یخو تورو شپو اوتوروتیارو دجبر او ستم مانۍ چې ټول ژوند یې برمته نیولی د پسرلنۍ ورمې دعدالت محکمې ته راکاږي. هوکې درنه لوستونکیه! ژوند یوه الهي معجوبه ده، دلته هیڅ څه بې هدفه بې مقصده او بې ګټې نه پېښیږي، په هر څه او هره ښکارنده کې یو راز نغښتی دی، په هر څه کې د انسان د پوهې او عبرت لپاره ښې بیلګې او نمونې شتون لري. د کال په نوي ورځ د عدل او انصاف محکمه جوړیږي، شپه او ورځ سره برابریږي او ژوند د ژمي د بې عدالتۍ او بې انصافۍ ښځه ژغوري ۱۳۹۶ لمریز کال دتاریخ پاڼو ته ځي او نوی ۱۳۹۷ لمریز کال د ورسپارل شویو دندو او مکلفیتونو دسرته رسولو لپاره دنوي ژوند او نوي خوند نندارہ پیلوي د لمر زرینې اودې وړانګې کومې چې د طبیعت د بیا را ژوندي کولو دنده په غاړه لري په څمکه کې... (٤مخ)

# له پوهنې ښځه د ملاتړ کال د ښوونځي زنګ په کړنګولو پیل شو

نوی ۱۳۹۷ ښوونیز کال، چې له پوهنې ښځه د ملاتړ کال نومول شوی د ولسمشر محمد اشرف غني معارف یو مقدس مسلک یاد کړ او پوهنه یې د پوهنې وزارت سره هر اړخیزه مرسته او همکاري وکړي .



ولسمشر محمد اشرف غني، د پوهنې د سرپرست وزیر ډاکټر محمد ابراهیم شینواري او یو شمېر نورو لوپوړو چارواکو لخوا د ښوونځي زنګ په کړنګولو سره پیل شو .

ټولو فردي مسوولیت او یوه اسلامي وجیبه وبلله. نوموړي زیاته کړه، چې ۱۳۹۷ کال مې له معارف ښځه د ملاتړ کال نومولی او ټولو وزارتونو او دولتي بنسټونو ته مې هدایت ورکړی، چې له

ښاغلي غني له پوهنې ښځه د ملاتړ په برخه کې د ګڼو نوښتونو او پلانونو تفصیلي یادونه وکړه. نوموړي وویل، چې په راتلونکو دوو کلونو کې به د ۶ زره ښوونځیو لپاره... (۲مخ)



## د پوهنې نوی سرپرست وزیر معرفي شو

ښاغلی ډاکټر محمد میرویس بلخي د پوهنې وزارت د سرپرست وزیر په توګه رسماً خپل کار پیل کړ. نوموړی د ولسمشر د دویم مرستیال... (٤مخ)



## لوګر کې له پوهنې د ملاتړ غونډه جوړه شوه

په لوګر ولایت کې د پوهنې بهیر په ملاتړ او زده کړو ته د ماشومانو د لاس رسي په موخه غونډه جوړه شوه.
یاده غونډه د پوهنې وزارت په لارښوونه د ابرار موسسې... (٤مخ)

# گزارش مختصر دست آوردهای معارف در سال ۱۳۹۶

وزارت معارف برای رسیدن به اهداف ستراتیژیک خویش پلان ستراتیژیک سوم ملی معارف را ترتیب نموده که درآن تمام ستراتیژی ها و فعالیتهای



که در برآورده ساختن اهداف ستراتیژیک نقش اساسی دارد مشخص گردیده است. پلان ستراتیژیک سوم معارف برای پنج سال آینده (۱۳۹۶-۱۴۰۰) در نظر گرفته شده است روی سه عرصه، که عبارت از کیفیت و مرتبط بودن، دسترسی متوازن به تعلیم و تربیه و مدیریت موثر و پاسخگو اولویت بندی گردیده.

**کیفیت و مرتبط بودن:**

هدف کلی: شاگردان در همه سطوح دانش، مهارت ها، نگرش ها و ارزش هایی را کسب خواهند نمود که لازمه یک شهروند سالم، رشید، مسئولیت پذیر و مولد می باشد و او را برای سهم گیری و مشارکت مؤثر در روند تأمین رفاه اجتماعی آماده ساخته و برای اشتغال مصئون و پایدار در بازارهای داخلی و بین المللی مجهز می نماید.

بادرک این ضرورت مبرم وزارت معارف اقدامات جدی را روی دست گرفته و عواملی که برای بلند بردن کیفیت تعلیم مهم و ضروری بوده در خور توجه جدی قرار گرفته است که میتوان از موارد چون: انکشاف نصاب تعلیمی، چاپ و توزیع کتب درسی، نظارت منظم تعلیمی، استخدام معلمین مسلکی، ایجاد ماحول مصئون تعلیمی و دخیل ساختن والدین و جوامع در اداره نظام معارف که در بلند بردن کیفیت عرضه خدمات تعلیمی و بهبود پروسه تدریس و آموزش نقش اساسی دارد، یاد آوری نمود:

**انکشاف نصاب تعلیمی:**

پلان برای ریفورم نصاب تعلیمی در چهار سال آینده ترتیب شده و جلسات مشاورتی با ذیدخلان در مرکز و ولایات انجام شده است. گروپهای کاری متشکل از متخصصان معارف، یونسکو، شرکای انکشافی و سایر ادارات ذیربط جلسات ماهوار دایر و موضوعات را پیگیری مینماید؛

چاپ و توزیع کتب درسی و رهنمای معلم به سطح تمام برنامه ها

جمعاً به تیراژ ۱۸,۰۴۱,۸۰۳ جلد کتب درسی صنوف ۱-۱۲ زبان های پشتو و دری تعلیمات عمومی... (ص ۲)

# خلاصه فعالیت های عمده وزارت معارف در سال ۱۳۹۷

۱- برنامه تعلیمات عمومی:

- جذب (۹۸۳،۹۲۱) تن شاگرد جدید (۵۸٪ اناث)
- تاسیس (۳۰۰) باب مکاتب ابتدایی جدید
- ارتقای (۲۸۰) باب مکاتب ابتدائیه به متوسطه
- ارتقای (۲۵۰) باب مکاتب متوسطه به لیسه
- اعمار (۷۱۷۶) باب صنوف درسی مکاتب تعلیمات عمومی
- چاپ و توزیع (۴۶،۰۲۴،۷۳۵) جلد کتب درسی برای شاگردان مکاتب تعلیمات عمومی
- چاپ (۴۹۵،۴۴۵) جلد کتب رهنمای معلم

-2برنامه تعلیمات اسلامی :

- جذب (۵۲،۵۶۹) تن طالب العلمان جدید (۲۶٪اناث
- تاسیس (۱۶) باب مدارس جدید،
- تاسیس (۵) باب دارالحفاظ و تاسیس (۲) باب دارالعلوم جدید تعلیمات اسلامی
- اعمار(۹) باب ساختمان مراکز تعلیمات اسلامی
- توزیع (۶۵۳،۴۹۶) جلد... (ص ۴)



رهبری وزارت معارف سال نو تعلیمی را به استادان محترم شاگردان عزیز و کافۀ ملت غیور افغانستان تبریک و تهنیت میگوید

بقیه صفحه اول

## گزارش مختصر دست آوردهای...

به تمام ولایات کشور بشمول معارف شهر کابل توزیع گردیده است. کتب بخش جعفری مضامین بخش اسلامیات در برنامهٔ تعلیمات عمومی به تیراژ ۲۵۰،۰۰۰ جلد کتب چاپ گردیده است؛

به تیراژ ۶۴،۰۰۰ جلد کتب درسی به مراکز تعلیمات اسلامی توزیع گردیده است که از مجموع هدف تعیین شده تنها ۱۱ فیصد براورده شده است؛

به تیراژ ۳۲۴،۲۳۴ جلد کتاب درسی و مواد آموزشی که از جمله ۷۱،۳۱۶ جلد کتب درسی برای تعلیمات تخنیکی و مسلکی چاپ و توزیع گردیده است؛

چاپ ۸۷ عنوان کتب درسی تعلیمات تخنیکی و مسلکی که به تیراژ ۲۱۶،۰۰۰ جلد کتاب میشود، جهت عقد قرارداد به ریاست محترم تدارکات وزارت معارف ارسال شده و مراحل اعلان را سپری میکند؛

به تعداد ۲۳۲،۵۰۰ سیت (۱۳۹،۵۰۰ جلد) کتب درسی و ۸،۶۰۰ جلد کتب رهنمای معلم به همکاری مالی و تخنیکی موسسه یونسکو، به تعداد ۱۶،۰۰۰ جلد(۱۰،۰۰۰ دری و ۶۰،۰۰۰ پشتو)کتب آموزشی قرانکریم در مطبعه معینیت سواد آموزی برای سواد آموزان، بعد از اصلاح چاپ گردیده و برای کورسهای پروژه ارتقای سطح سواد به طور ازمایشی در ۳۴ ولایت و ولسوالی ها توزیع گردیده است؛

همچنان آمریت انکشاف نصاب تعلیمی با همکاری موسسه یونسکو کتابچه ارزیابی سوادآموزان را به زبان های پشتو و دری تهیه نموده که به طور آزمایشی به کورسهای سوادآموزیELAتوزیع و قابل استفاده قرار گرفته است.

**ارتقای قابلیت های مسلکی معلمان**

به منظور ارتقای ظرفیت و مهارت های تدریسی معلمین موجود برنامه وسیع رویدست گرفته شده که شامل آموزشهای مسلکی و روشهای تدریس میباشد؛

به منظور ارتقای قابلیت های مسلکی متخصصین و مؤلفین نصاب در ادارهٔ کریتیف به تعداد ۲۵ تن از مولفان ریاست انکشاف نصاب، قابلیت های مسلکی را در عرصه نوشتن کتاب های خوانش به کمک مالی وتخنیکی پروژهٔ ECR کسب کرده اند؛

به تعداد ۱۸ تن از مؤلفان کتب درسی در برنامه ماستری پوهنتون کابل و پوهنتون تعلیم و تربیه معرفی و شامل گردیده اند. در ضمن به تعداد ۱۰ تن از مولفان به کورسهای آموزشی قصیرالمدت به خارج از کشور اعزام گردیده اند.

**نظارت تعلیمی**

بمنظور تشخیص نواقص و نارسایی های امور مدیریتی مکاتب و چگونگی تدریس معلمین، تیم های نظارتی بر اساس رشته در سطح ولسوالی ها و حوزه های شهری استخدام گردیده تا به مشکلات مکاتب رسیده گی و معلمین را بخاطر ارائه تدریس با کیفیت در دانش مضمونی، میتود تدریس و مدیریت صنف رهنمایی و حمایت نمایند؛

اعضای نظارت تعلیمی در جریان سال تعلیمی ۱۳۹۶ از ۱۲،۷۲۲ باب مکتب در ۳۴ ولایت کشور بشمول معارف شهر کابل بازدید نموده اند، در این بازدید ها اعضای نظارت از نیازمندی آموزشی معلمین، موجودیت کتب درسی و اسناد مربوط به مکاتب اطمینان حاصل و اجراآت لازم صورت گرفته است؛

**استخدام معلمان مسلکی**

به منظور رفع مشکل کمبود معلمان مسلکی به سطح مرکز و ولایات بصورت مجموعی به تعداد ۵،۳۶۱ تن معلم و استاد از طریق پروسه رقابت آزاد استخدام گردیده اند که عملاً مصروف تدریس در مراکز تعلیمی میباشند.

**ایجاد ماحول مصئون تعلیمی**

با درنظرداشت این ضرورت مبرم وزارت معارف توانسته است به تعداد ۳،۲۴۵ پروژه مختلف النوع ساختمانی را تحت اجرا قرار دهد که از جمله به تعداد ۱،۶۹۳ پروژه تکمیل، ۷۲۳ پروژه تحت کار و ۴۶۵ پروژه تحت پروسه تدارکاتی و پروژه سازی میباشد. از اثر تطبیق پروژه های ساختمانی طی سالیان متمادی در ۵۸ فیصد مکاتب در سراسر کشور ماحول مصئون تعلیمی ایجاد گردیده است.

**بهبود وضعیت معیشتی معلمان**

به منظور اعمار سرپناه و تهیهٔ مسکن، به تعداد ۵،۳۴۴ نمرهٔ رهایشی در ولایت بلخ، کابل، ننگرهار، غزنی، میدان وردک و فاریاب برای معلمان توزیع گردیده است که در حدود ۳،۳۵۰ جریب زمین را احتوا میکند.

با توزیع نمرات رهایشی مشکل عدم موجودیت سرپناه معلمان متذکره رفع گردیده است. علاوه برآن در سه ولایت کشور ( بلخ، فاریاب و سرپل) شهرک های معلمین ایجاد و خط اندازی گردیده که شامل ۲،۰۲۹ نمره رهایشی میباشد.

**برنامه تعلیمات عمومی**

به تعداد ۹۳۱،۹۱۴ تن شاگرد جدیدالشمول منجمله ۳۷۰،۱۳۳ تن اناث در مکاتب تعلیمات عمومی کشور جذب گردیده اند. با جذب شاگردان جدیدالشمول تعداد مجموعی شاگردان این برنامه به ۸،۹۳۸،۵۷۲ تن بشمول ۳،۴۴۳،۰۴۹ تن اناث رسیده است؛

از طریق ایجاد ۶،۸۰۵ صنف محلی و آموزش تسریعی در ۲۷ ولایت کشور برای ۲۰۵،۶۳۶ تن شاگرد از جمله ۱۹۴،۷۵۹ تن اناث زمینه دسترسی به تعلیم و تربیه فراهم گردیده است؛

بمنظور دسترسی به تعلیم و تربیهٔ اطفال بیجا شده گان و مهاجرین، برنامهٔ تعلیمات در حال اضطرار راه اندازی گردیده است. با تطبیق این برنامه برای ۱۸۰،۰۰۰ تن طفل منجمله ۵۱٪ اناث در ۱۰ ولایت (هلمند، سرپل، کندز، کنر، لغمان، جوزجان، خوست، قندهار، کابل و ننگرهار) که نسبت عوامل گوناگون از محل سکونت شان بیجا شده بودند زمینه تعلیم و تربیه فراهم گردیده است که توسط موسسات و شرکای کاری معارف ( ARC, ACTED, NRC, INTERSOS, CoAR, AWEC & SCI ) تمویل و به پیش برده میشود؛

سالانه بطور اوسط اضافه تر از ۲۵۰،۰۰۰ تن شاگرد از صنف ۱۲ مکاتب تعلیمات عمومی فارغ گردیده اند که اضافه از ۵۰ فیصد این فارغان در پوهنتون های دولتی وخصوصی جذب و به تحصیلات عالی و نیمه عالی کشور راه می یابند.

**برنامه تعلیمات اسلامی**

در جریان سال ۱۳۹۶ جمعاً ۴۷،۴۸۹ تن طالب العلم بشمول ۱۳،۰۵۳ تن اناث در مراکز تعلیمات اسلامی در سراسر کشور جذب گردیدند. با جذب طالب العلمان جدید مجموعی طالب العلمان این برنامه به ۳۴۳،۱۱۶ تن بشمول ۸۱،۴۴۱ تن اناث رسیده است؛

به تعداد ۲۱ باب مراکز اسلامی به سطح کشور جدیداً تأسیس گردیده است که از جمله به تعداد ۱۶ باب مدرسه و ۵ باب دارالحفاظ میباشد.با تأسیس مراکز تعلیمات اسلامی جدید تعداد مجموعی مراکز این برنامه به ۱،۰۶۶ باب بشمول ۱۰۲ باب دارالعلوم، ۷۷۰ باب مدرسه و ۱۹۴ دارالحفاظ رسیده است.

**تربیه معلم**

به تعداد ۲۳،۰۲۶ تن محصل در برنامه های آموزشی قبل از خدمت و داخل خدمت تربیه معلم در سراسر کشور جذب گردیده اند که از جمله به تعداد ۱۹،۷۵۲ تن بشمول ۱۲،۳۳۵ اناث در برنامه قبل از خدمت و ۳،۲۷۴ تن بشمول ۸۵۳ تن اناث در برنامه داخل خدمت میباشد. با جذب محصلان جدیدالشمول تعداد مجموعی محصلان این برنامه به ۴۳،۴۳۰ تن منجمله ۲۴،۶۰۴ اناث رسیده است که از جمله ۳۶،۱۳۳ تن بشمول ۲۲،۸۱۴ تن اناث در برنامه آموزشی قبل از خدمت و ۷،۲۹۷ تن بشمول ۱،۷۹۰ تن اناث در برنامه آموزشی داخل خدمت در ۴۵ باب دارالمعلمین و ۱۹۸ باب مرکز حمایوی مصروف فراگیری تعلیم میباشند؛

**برنامهٔ تعلیمات تخنیکی و مسلکی**

به تعداد ۲۶،۸۵۳ تن شاگرد ازجمله ۱۸ فیصد اناث در مراکز تعلیمی تخنیکی و مسلکی جذب گردیده اند که به اساس آن مجموع شاگردان مراکز دولتی تعلیمات تخنیکی و مسلکی به ۶۴۳۵۴ تن منجمله۱۸٪ تن اناث رسیده است؛

**برنامه سواد آموزی**

به تعداد ۲۰،۶۰۱ کورس سواد آموزی منجمله ۹،۵۶۶ کورس اناث در سراسر کشور بادر نظرداشت معیارات و اساسات تعین شده ایجاد گردیده است.

که از طریق ایجاد کورسهای سواد آموزی برای ۴۲۵،۲۴۹ سواد آموز منجمله ۲۴۲،۴۶۰ تن اناث زمینه کسب سواد (خواندن، نوشتن و حساب ابتدائی) فراهم گردیده است که توسط ۱۴،۴۱۸ تن معلم برایشان تدریس صورت گرفته است.

**ریفورم و اصلاحات تشکیلاتی**

برای ریفورم و اصلاحات کلی به سطح وزارت معارف، پلان جامع ترتیب و پروسهٔ ریفورم آغاز گردیده است. به منظور تطبیق پروسهٔ ریفورم گروپهای کاری که متشکل از کارشناسان و کارمندان تخنیکی در سطوح مختلف (سطح رهبری و ریاستهای مربوط وزارت معارف) میباشد، ایجاد گردیده است؛

**حکومتداری خوب و مبارزه علیه فساد اداری**

بمنظور به میان آوری و ایجاد حکومتداری خوب اقدامات جدی صورت گرفته است. لوایح، مقرره ها و طرزالعمل های کاری مرور و بازنگری گردیده است. کار روی ساده سازی پروسه های کاری بادر نظرداشت قوانین نافذه کشور جریان دارد؛

د لومړي مخ پاتې

## له پوهنې څخه د ملاتړ...

نوي وداني جوړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شي. دغه ښوونځیو د جوړېدو لپاره ۲۰۰ میلیون ډالره خانګړې شوي او د کلیو او پراختیا وزارت ته سپارښتنه شوې، چې په دې برخه کې اړینه همکاري وکړي.ښاغلي غني دغه راز وویل، د ښار جوړولو وزارت ته مې دنده سپارلې، چې ۱۰۰ بابه ښوونځي د (پیش ساخت) پر اساس جوړ کړي. دغه وداني به په کابل کې جوړیږي او د هېواد په ناامنه سیمو کې به د یوې یا دوه اونیو په ترڅ کې اماده او ګټې اخیستنې ته سپارل کیږي.

ولسمشر د ښوونکو د رتبو او معاشونو د نوي سیستم یادونه وکړه، چې د پوهنې وزارت له لوري یې طرزالعمل برابر شوی او په رسمي جریده کې به یې چاپ کړي. دغې طرزالعمل له مخې به ښوونکي د روان کال د زمري له ۲۷ مې دغې سیستم له امتیازاتو ګټه واخلي .ولسمشر محمد اشرف غني د پوهنې د کیفیت لوړولو په برخه کې وویل، چې د مخابراتو وزارت او اترا اداري ته یې دنده سپارلې، چې د مرکز او ولایتونو ټول ښوونځي له انټرنېټ سره وصل کړي. په لومړي پړاو کې به د کابل ښوونځي له انټرنېټ سره وصل شي او وروسته به نورو ولایتونو ته هم پراختیا وموي. دغه پروګرام له عملي کېدو سره به د پوهنې کیفیت د پام وړ بدلون وکړي.ښاغلي غني د ښوونکو د معیشتي ژوند د ښه والي په برخه کې د ښوونکو لپاره د قرضې صندوق د جوړېدو خبر هم ورکړ. نوموړي وویل، چې د مالیې وزارت به له دې صندوق سره دوملداره همکاري کوي او له ملي سوداګرو یې وغوښتل چې له یاد صندوق سره مرسته وکړي.

ولسمشر غني وویل، چې په معارف کې فساد ورته د منلو نه دی او پوهنې وزارت دې په دې برخه کې اړین ګامونه پورته کړي. هغه د آزاد رقابت له لارې د ښوونکو ګمارل د پوهنې په سکتور کې د فساد د مخنیوي په برخه کې یو مهم ګام وباله. نوموړي زیاته کړه، تېر کال کې د ۶ زره قراردادي ښوونکو، چې له ولې یې ۲۵۰۰ جذب شوي یادونه وکړه او ژمنه یې وکړه، چې په روان کال کې به دغه شمېر دوه چنده یا ۶ زرو ته لوړ کړي او دا به خاص میرمنو ته ورکول کیږي.

ښاغلي غني له معارف څخه د ملاتړ په برخه کې د افغانستان په ټولو خلکو غږ وکړ، لکه څنګه چې د جوماتونو په جوړولو کې یې په تېرو څو کلونو کې بېساري مرسته کړې دغسې ورته مرسته له معارف او د ښوونځیو له جوړېدو سره هم وکړي .ولسمشر محمد اشرف غني دغه راز ژمنه وکره، چې معارف به پر یوې مسلکي او غیر سیاسي اداره بدلوي او د هر ډول تفرقې او نفاق مخه به یې نیسي.د یادولو وړه ده، چې ۱۳۹۷ کال د ولسمشر محمد اشرف غني د حکم پر اساس له پوهنې څخه د ملاتړ کال نومول شوی او د هېواد د سرو سیمو په ټولو ولایتونو کې د ښوونځي زنګ مراسم او له پوهنې څخه د ملاتړ غونډې جوړې شوې دي.

ولسمشر محمد اشرف غني هم له پوهنې څخه د ملاتړ په موخه د ۶۵۲ ګټې وړاندیز پر اساس د پوهنې وزارت د یو شمېر چارواکو، مدني ټولنو، میندو او د پوهنې خیرخواه کسانو ته د غازي میرمسجدي خان، غازي ملا مشک عالم او ملالی میونډی دولتي عالي مډالونو منظور کړي دي.

## خلک

له ما ګوښه دي له ما ډېر لري وادن دي خلک
زه توري خاوري يم او ستوري د اسمان دي خلک
زه وم يو زخم، څکه مالګې دوړولې هر چا
زه يم يو ګل، څکه ملګري د خزان دي خلک
د چا تر سر تېر شه اشنا چي دروازه جوړه شي
لکه دېوال ولاړ زما او ستا تر ميان دي خلک
زړونه يې وګوره چي تور نه وي د کفر په شان
مخ ته يې مه ګوره چي سپين لکه ايمان دي خلک
تر څو چي ورېږي وي درويشه نو دوستي يې ښه ده
پر خزانه باندي چي کښيني تور ماران دي خلک

راليږونكى: نجيم

## ضمير

له بدو څرنګه لاس واخلي چي ضمير نه لري
شيطان به وتري په څه باندي، زنځير نه لري
هر څه په خپله خوښه کاندي، بل ته غوږ نه نيسي
زړه د بدن داسي باچا دى چي وزير نه لري
خپل خيرن زړه به نو په کومه رڼا باندي وينځي
که سړى ټول عمر خوشاله وي او وير نه لري
زما زړګى به هم تل نه ګوري د غشو لاره
او ستا باڼه به هم مدام داسي تاثير نه لري
دا دومره زر چي ټولوي درويشه داسي ښکاري
چي له جهانه د تګ نيت د ښار امير نه لري

راليږونكى: عزير

## د خلورو ملګرتيا

اوريدلی مي نومونه هم څلور دي

نازل شوي کتابونه هم څلور دي

دڅلور فرشتو په لاس نظام دی

امامان دي مسلکونو هم څلور دي

په څلور بازو ګانو دي سفر دی

جنازه کي تکبيرونه هم څلور دي

رحمان وائي د څلور و ملګرتيا کره

ستا دقبر ديوالونه هم څلور دي

راليږونكي: نفيسه

## ای انسانه

- دنيا لپاره دومره خواری وکاږه څومره چي ته دلته اوسيږي
- آخرت لپاره دومره خواری وکاږه څومره چي هلته اوسيږي
- دالله رضا لپاره دومره کوشش وکړه څومره چي ورته محتاجه يي
- ګناه دمره وکړه څومره چي يي عذاب زغملای شي.
- يوازی دهغه څخه يي وغواړه چي د هيچا محتاج نده

راليږونكي: حسيبا

## سخنان بزرگان در باره تعلیم و تربیت

معلم بر جاودانگی اثر می‌گذارد و هرگز نمی‌توان گفت اثر او کی متوقف می‌شود
معلم کسی است که خود را به صورت پیش‌رونده‌ای غیرضروری می‌سازد
معلم معمولی، می‌گوید؛ معلم خوب، توضیح می‌دهد؛ معلم برتر به نمایش می‌گذارد؛ معلم بزرگ، الهام می‌بخشد
معلم خوب، بهتر از معلم جذاب است؛ زیرا معلم جذاب، تدریس را تحت الشعاع قرار می‌دهد
هر حقیقتی، چهار گوشه دارد؛ من به‌عنوان معلم، یک گوشهٔ آن را به شما نشان می‌دهم؛ بر شماست که سه تای دیگر را بیابید
برترین نتیجهٔ تربیت، تحمل است
تدریس خوب، از افراد خوب برمی‌آید
یک روز با یک معلم بزرگ بودن، برتر از هزار روز مطالعهٔ مجدانه است
زندگی زیر چتر علم و آگاهی آن‌قدر شیرین، و انس با کتاب و قلم و اندوخته‌ها آن‌قدر خاطره‌آفرین و پایدار است که همه تلخی‌ها و ناکامی‌های دیگر را از یاد می‌برد
ملت از راه آزادی به تعلیم و تربیت دست می یابند، نه برعکس

رالیږونکی: رساله

## سیاه دانه

سیاه دانه را پیامبر اکرم (ص) درمان هر دردی به جز مرگ می دانست . خواص و فواید سیاه دانه و عسل به قدری فراوان هستند که از درد ناخن پا تا درد و بیماری های نوک موی سر را می توان با آن در مان کرد .
سیاه دانه طمعی تلخ دارد و به عنوان ادویه ودر مواد غذایی به خصوص ترشیجات استفاده میشود . و مصرف سیاه دانه در کاهش قند خون فشار خون و در درمان دیابت بیماری های قلبی کم خونی موی رفتگی و تقویت موی سر مفید است . و همچنان به زنان شیر ده بسیار مفید است زیرا با عث افزایش ترشح شیر میشود . معجون ترکیبی از عسل وسیاه دانه که تهیه آن بسیار ساده و در عین حال موثری هست که از قدیم در طب سنتی محبوب بوده و برای درمان بیماری های مختلفی از آن استفاده می شد.سیاهدانه در ترکیبات مختلف، اثرات درمانی متفاوتی دارد .

ارسالی: عابده عابدی

## خواص سرکه سیب

سرکه سیب یک ماده مفید دارای خواص ضد باکتری ضد التهاب است و برای تقویت پوست - مو - هضم غذا - پوکی استخوان مورد استفاده قرار میگیرد .
سرکه سیب سر شار از مواد مغذی ای است که به لاغر شدن کمک میکند و هضم غذا را راحت تر میسازد و خواصی دارد که با کلسترول - فشار خون بالا - پیری زود رس - عفونت گوش مقابله میکند . واگر میخواید دندان های سفید داشته باشید صبح یک بار غرغره کرده و همچنان با غرغره کردن سرکه سیب باکتریای دهن و عفونت های بیره از بین رفته و در سفید کردن دندان ها کمک میکند .
با اینحال ازان در زمینه های محتلفی از زیبایی گرفته تا سلامتی استفاده میگردد . بعضی از افراد سرکه سیب را با عسل مخلوت کرده مصرف میکنند که به کاهش فشار خون بالا - چربی خون ولاغری تاثیر مثبت دارد .

ارسالی: عابده عابدی

## سبزیجات از کالوری پایینی برخوردار هستند

در حدود یک سوم مردم دنیا از بیماری چاقی رنج می برند. به منظور کاهش وزن، باید از غذاهایی با کالوری پایین استفاده کرده و تحرک خود را نیز افزایش دهید. استفاده سبزیجات از اهمیت ویژه ای برخوردار می باشد. مردم اکثراً به خوردن غذاهای با چربی بالا تمایل زیادی نشان می دهند. رژیم غذایی چرب، ریسک ابتلا به بیماری های قلبی و انواع خاصی از سرطان ها را افزایش می دهد. از سوی دیگر چربی هایی که باعث ایجاد ناراحتی قلبی می شوند در سبزیجات در پایین ترین حد خود قرار دارند. بسیاری از خوراک های حیوانی مقادیر زیادی کلسترول در خود جای می دهند. مصرف اینگونه غذاها، کلسترول موجود در خون را افزایش داده و موجب بالا رفتن خطر ابتلای بیماری های قلبی نیز می شوند. از آنجاییکه سبزیجات فاقد کلسترول می باشند می توانند از بروز این بیماری کشنده در افراد جلوگیری کنند.

گل آغا احمدي وردگ

## محمد حنيف اتمر د پوهنې دوه څلويښتم وزير

ښاغلي محمد حنيف اتمر له ۱۳۸۴ څخه تر ۱۳۸۷ کال پورې د افغانستان د پوهنې د وزير په توګه دنده اجرا کړې ده. ښاغلی محمد حنيف اتمر د محمد آصف اتمر زوی چي په ۱۳۴۷ کال د لغمان په ولايت کې زيږېدلی دی، د افغانستان د کليو د پراختيا، پوهنې او کورنيو چارو د وزير په توګه يې دندې اجرا کړې دي. ښاغلي محمد حنيف اتمر خپلې لومړنی او ثانوي زده کړې د هېواد د ننه، د



کمپيوټر او معلوماتي ټکنالوجی په برخه کې د معادل لېسانس زده کړې په لندن او په ۱۳۷۷ کال د انګلستان د يارک له پوهنتون څخه يې د نړيوالو اړيکو او پراختيا په برخه کې ماستري لاسته راوړې ده. ښاغلي محمد حنيف اتمر له ۱۳۷۱ څخه تر ۱۳۸۱ کال پورې د غير دولتي موسساتو په چوکاټ کې په بشري او عمراني چارو بوخت وو او له افغان مهاجرينو سره يې د مرستو ګڼ پروګرامونه تنظيم کړي دي. محمد حنيف اتمر په ۱۳۸۱ کال د کليو د پراختيا د وزير په توګه و ټاکل شو او د لومړي ځل لپاره يې په هېواد کې د ملي پيوستون پروګرامونه پلي کړل. نوموړی په ۱۳۸۵ کال د پوهنې د وزير په توګه په دنده و ټاکل شو او په ۱۳۸۷ کال د کورنيو د چارو وزير شو چې تر ۱۳۸۹ کال پورې يې دغه دنده مخته يوړه. ښاغلی محمد حنيف اتمر د ۱۳۹۳ کال د تلې د مياشتې په ۸ مه نېټه د ولسمشر محمد اشرف غني له خوا د ملي امنيت د شورا د سلاکار په توګه و ټاکل شو او له ټاکل کېدو سره سم يې د افغانستان په استازيتوب د امريکا د متحده ايالاتو سره امنيتي تړون لاسليک کړ.

Weekly Marif Newspaper

Established 2002, Issue No 228, Month March - April 2018

Ministry of Education Cultural and Social Issue

# د پوهنې سرپرست وزير په افغانستان کې د يونسکو له مشرې سره وليدل

د پوهنې سرپرست وزير ډاکټر محمد ميرويس بلخي په افغانستان کې د يونسکو له مشرې مېرمن پاتريشيا سره په خپل کاري دفتر کې وليدل او په اړوندو موضوعاتو يې خبرې وکړې.

په دې ليدنه کې د پوهنې سرپرست وزير د ښوونيز نصاب په برخه کې د اصلاحاتو پر راوستلو ټينګار وکړ، زياته يې کړه، چې پوهنې وزارت بايد په دې برخه کې د نړۍ د پرمختلليو هېوادونو له تجربو څخه ګټه واخلي.

نوموړي وويل، چې دغه چاره هغه وخت عملي بڼه خپلوي، چې د پوهنې وزارت د نصاب کارکوونکو ته د نړيوالو کارپوهانو له لوري روزنه ورکړل شي او يا د ښوونيز نصاب غړي د لنډ مهالو او اوږد مهالو روزنيزو پروګرامونو لپاره بهرنيو هېوادونو ته واستول شي.

مېرمن پاتريشيا د نصاب او د سواد زده کړو له پروګرامونو سره د يونسکو له مرستو يادونه وکړه زياته يې کړه، چې دغه موسسه اوسمهال د ښوونيز نصاب د سمون پروګرام يوه برخه ده .

د پوهنې سرپرست وزير دغه راز د هېواد هغو برخو ته د ليك لوست پروګرامونو د پراختيا په برخه کې د ياد سازمان د مرستو غوښتونکی شو، چې تر دې مهاله د سواد زده کړو پروګرام تر پوښښ لاندې نه دي راغلي. ښاغلي بلخي زياته کړه، چې د هېواد ښوونيز نصاب ته بايد د ملت جوړونې د يوه مهم عنصر په توګه وکتل شي او دی له همدې امله د ښوونيز نصاب د بيا سمون پروګرام له نژدې څاري.

د پوهنې وزارت سرپرست وويل، چې دده بنسټيزه موخه د پوهنې وزارت په ټولو برنامو کې د شفافيت راوستل دي، چې له دې لارې وکولای شو د نړيوالو همکارانو او د افغانستان د خلکو ملاتړ جلب کړو.

د لومړي مخ پاتې

## د پوهنې سرپرست...

سرور دانش لخوا د وزارت کار کوونکو ته ور وپېژندل شو.

ولسمشر د يوه فرمان له مخې ښاغلی بلخي د وزارت سرپرست ټاکلی او ترڅنګ يې پارلماني چارو وزارت ته لارښوونه کړې، چې ولسي جرګې ته يې د رای اخيستو لپاره معرفي کړي.

د ولسمشر دوېم مرستيال په دې اړه جوړو شويو مراسمو کې د پوهنې اوسنی وضعيت د قناعت وړ وباله او له ټولو ستونزو او ګواښونو سره سره يې د پوهنې په برخه کې لاسته راوړنې او پرمختګونه وستايل.

نوموړي دا يو ښه ګام وباله، چې ولسمشر غني ۱۳۹۷ ښوونيز کاَل له پوهنې د ملاتړ کال ونوماوه او زياته يې کړه، چې د ولسمشر د هدايت پر بنسټ ټولې دولتې اداري مکلفې دي په دې برخه کې له پوهنې وزارت سره مرسته او همکاري وکړي.

ښاغلي دانش د هغو ۲۰۰ ميليون ډالرو خبره هم وکړه، چې د راتلونکو دوو کلونو لپاره په ټول هيواد کې د څه باندې ۶ زره ښوونځيو د نويو ودانيو د جوړولو لپاره بېل شوي دي.

وروسته د پوهنې وزارت نوي ټاکل شوي سرپرست ښاغلي ډاکټر ميرويس بلخي په خپلو خبرو کې د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت له باور او اعتماد څخه مننه وکړه، چې دا درونډ مسووليت يې ورسپارلی ښاغلي بلخي زياته کړه: موږ به په خپل ټول توان او قدرت سره د هېواد د پوهنې د پرمختګ لپاره هڅې وکړو او ژمنه يې وکړه چې په دې برخه کې به خپلې هڅې ګړندۍ ساتو.

د لومړي مخ پاتې

## لوګر کې له پوهنې د...

له خوا جوړه شوې وه، چې د پوهنې رئيس عبدالوکيل کليوال، د اطلاعاتو او کلتور رئيس محمد شفيق پوپل، د ښځو چارو رئيسې شيما زرګر، ديني عالمانو، قومي مشرانو، د مدني ټولنو غړو، د رسنيو استازو او ځوانانو پکې برخه لرله .د لوګر د پوهنې رئيس عبدالوکيل کليوال يادې غونډې ته د وينا په مهال، زده کړو ته لاسرسی د ماشومانو اسلامي او قانوني حق وباله.

هغه وويل، چې زده کړو ته د ماشومانو د لاس رسي په برخه کې به خپلې هلې ځلې لا ګړندۍ او پراخې کړي. نوموړي زياته کړه، چې ۳۵ نوي ښوونځي به پرانيزي او ۲۰ زره نوي ماشومان به هم په ښوونځيو کې جذب کړي .د پوهنې رئيس د لوګر له ټولو اوسېدونکو وغوښتل، چې په خپلو لوڼو او زامنو زده کړې وکړي او په دې برخه کې دې تو پيري چلند نه کوي .

ده وويل، چې له دې غونډې څخه يې موخه داده، چې د پوهنې د بهير په پياوړتيا کې د خلکو ونډه زياته کړي او په دې اهميت يې پوه کړي، چې د پوهنې بهير يوازې په دولت پورې نه، بلکې په پښو درول يې په خلکو پورې هم اړه لري .

کليوال د يادې غونډې ګډونوالو ته وويل، چې د لوګر خلکو پخوا هم د پوهنې بهير له بيلا بيلو برخو سره ډېرې مرستې کړې او دی ډاډه دی، چې له دې وروسته به دغه بهير د دوی په مرسته لا ګړندی شي .

ها خوا په دې غونډه کې د اطلاعاتو او کلتور رئيس محمد شفيق پوپل په خپلو خبرو کې له ديني عالمانو او رسنيو غوښتنه وکړه، چې خلك زده کړې ته وهڅوي. د دې ولايت د ښځو چارو رئيسې شيما زرګر بيا له ټولو خلکو وغوښتل، چې په خپلو لوڼو زده کړې وکړي او د خدای (ج) له ورکړي حق څخه خپلې لوڼې بې برخې نه کړي .

د لوګر د پوهنې رياست د اسلامي زده کړو مرستيال مولوي خان زمان په خپلو څرګندونو کې زده کړه د هر انسان حق وباله او زياته يې کړه، چې د علم زده کړه په هر مسلمان نارينه او ښځينه فرض ده .

## ديدار تعارفی سرپرست وزارت معارف با رؤسای

دکتور محمد ميرويس بلخی سرپرست وزارت معارف با رؤسای مرکزی اين وزارت ديدار تعارفی نمود. در اين نشست محترم بلخی بر هماهنگی بيشتر ميان رؤسا تأکيد کرد و تعهد نمود که برای پيشرفت و شگوفايی معارف با هم تلاش های مؤثری را انجام خواهند داد.

وی به رؤسای مرکزی اين وزارت دستور داد که در سال ۱۳۹۷ که سال حمايت از معارف نامگذاری شده برای رشد و انکشاف معارف تلاش های خود را بيشتر و مؤثرتر نمايند و در اين راستا از هيچ نوع سعی و تلاش دريغ نه ورزند.

سرپرست وزارت معارف اطمينان داد که به همکاری شما سال روان تعليمی يک سال بسيار مهم و متفاوت از سال های گذشته برای رشد و توسعهٔ معارف خواهند بود.

بقيه صفحه اول

## خلاصه فعاليت های ...

- کتب درسی تعليمات اسلامی مطابق تعداد شاگردان

**۳- برنامه تربيه معلم:**

- جذب (۱۱،۵۶۷) تن محصلان جديد/ معلمان در برنامه های تربيه معلم (۴۸٪ اناث)
- توزيع (۱۰۶،۲۷۶) جلد کتب درسی برای محصلين تربيه معلم
- چاپ (۸۶۳،۹) جلد کتب رهنمای معلم برای تربيه معلم

**۴- برنامه سواد آموزی:**

- جذب (۵۲۰،۰۰۰) تن سواد آموزان
- ايجاد (۸۰۰،۲۰) باب کورس سواد آموزی در سراسر کشور
- چاپ و توزيع (۵۲۰،۰۰۰) جلدکتب درسی برای سواد آموزان، راهنمای معلم و کتب درسی برای کورسهای حرفوی
- نظارت از (۲۰،۸۰۰) باب کورس های سواد آموزی

**۵- برنامه تعليمات تخنيکی و مسلکی:**

- جذب (۴۱۰،۶۶) تن جديد الشمولان در مکاتب و انستيتوت تعليمات تخنيکی و مسلکی در مرکز و ولايات
- اعمار (۴) باب مرکز تعليمات تخنيکی مسلکی
- چاپ و توزيع (۴۶۲،۹۱۰) جلد کتب درسی برای شاگردان تعليمات تخنيکی و مسلکی
- چاپ و توزيع (۸،۳۷۹) جلد کتب درسی و رهنمای معلم

**۶- برنامه اداره تعليم و تربيه:**

- استخدام (۱۳۵۵۰) تن معلم و کارمندان
- تهيه ايجادتجهيزات ويديو کنفرانس وتکنالوژی معلوماتی برای (۱۴) ولايت
- ترتيب (۴۲۳) پلانهای عملياتی سالانه مرکزی ولايتی وولسوالی
- انجام (۴) مرور مشترک از وضعيت تعليم و تربيه در سطح ولايات با همکاری موسسات
- جمع آوری معلومات احصائيوی از (۱۰۰٪) مکاتب کشور
- ترتيب (۴۲۳) گزارش از مرکز ولايات و ولسوالی ها

د لومړي مخ پاتې

## پسرلنۍ ورېمه د نوي...

دخښوشويو، ونو د زړو او بوټو زړونه تخنوي او قوت وربښي چې را ويښ شي دخپل خالق له راز او نيازه ډکه ننداره يو ځل بيا پيل کړي هغو ميليونونو ډوله سالرونکو ته چې په ژمني خوب ويده دي د پسرلي زيری ووايي او په ځمکه کې د فقر او غريبی دخپريدومخه ونيسي څوهغه الهی ايکوسيستم ته چې په ځمکه کې يې دعدل اوانصاف لمن غوړولې او دهر چا روزي ترې حاصليږي زيان ونه رسيږي د کال لومړی ورځ داعتدال او برابری ورځ ده د ژمي د يخنی د ظلم او زورپه وړاندې د پاڅون ورځ ده لدې ورځې وروسته د لمر وړانګې ورځ په ورځ توديږي اوپه الهي حکمت سره د نباتاتوپه را زرغونولو او سمسورولو د نورو ميليونونوډوله ژويو لپاره د خوند خواږه برابروي او د خوښيو او خوشحاليو ډك دسترخوان غوړوي او پدې توګه دکائيناتو سردار دخپلې پاچاهي او سلطنت د ظاهرولو له حکمته ډکه ننداره د زړونو د روښانولو او د سرکښانو د غرور دماتولو لپاره ننداري ته وړاندې کوي چې دغه له عبرت څخه ډکه ننداره د پوهې او بصيرت څښتنانو لپاره هغه له راز او نيازه ډکه خزانه ده چې راسپړل او ژورتياوو ته رسيدل يې له انساني تفکر څخه لري او ګران بريښي خو هغه څه چې څرګند دي دا دي چې دکاَل نوی موسم او نوی پيل موږ ته داپه ډاګه کوي چې ټول بايدله دغه الهي فرصت څخه ګټه واخلو بزګران بايد خپلو ګروندوته ستانه شي او زموږ ګران زده کوونکي او ښوونکي بايد د نوي تعليمي کال د زنګ په کړنګولو سره خپل درسونه په ځوانه انرژی او طاقت پيل کړي له تيرکال څخه عبرت واخلي خپلې تيروتنې تکرارنکړي د ښوونې او روزنې نوي رازونه کشف او پيدا کړي د زده کړې نوي ميتودونه او لارې چارې تجربه کړي علمي تجربې وکړي علمي سفرونه ولري او هغه موخې تر لاسه کړي کومې چې د وطن لوړې ګټې يې په ګوته کوي. ګرانو ښوونکو! راځئ چې د کار او زيار پدې موسم کې په پوره ځواك او مينې د خپل ګران هيواد د پوهنيزو اقتصادي، فرهنګي او ټولنيزو ستونزو او نيمګړتياوو د له منځه وړلو او د فقر او بدبختۍ د ټغر د ټولو لپاره سره يو لاس او يو موټی شو او دخپلو ماشومانواو نوي نسل په سالمې ښوونې او روزنې سره دخپل هيواد په آبادولو او سمسورتيا کې له هر وخت څخه زياته او فعاله ونډه واخلو.

مسوول مدير: محمد نسيم "عياذ"
کتنپلاوي: محمد کبير حقمل- معراج زماني- استاد ګل رحمان رحمان عبدالصبور غفراني - محمد اکرم وفادار
خبريال: - محمد اشرف رسولي
کمپوز و ډيزاين: بريالی رحمانزی
شمير: ۵۰۰۰
ديجيتل: (۰۷۲۹۸۱۹۰۳۳)
ايميل: marif.newspaper.moe@gmail.com
پته: دکابل ښار، محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت د اړيکو او عامه پوهاوي رياست، د پوهنې اوونيزې مديريت